لیونی زړه



# ليونی زړه

سرحد الله نوری

۲۰۲۴ کال

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پېژندنه!

نوم : ليونی زړه

ليکوال : سرحد الله نوری

ډيزاين : تميم امرخيل

د ليکوال شميره: 0789446564

د امرخيل شميره: +15852980839

چينل لينک :

https://whatsapp.com/channel/0029VaWOd6GJENyAvNCKmF0K

که تاسو هم غواړي چې خپل کتابونه مو ډيزاين کړي او يا يي هم (پي ډي ايف) ته واړوي نو له موږ سره په لاندي وټساپ نمبر اړيکه ونيسي

+15852890839

Tamim Amarkhil

بيدون له نشرولو يي ټول حقوق له ليکوال سره خوندي دي

زه ډېر شوخ هلک وم په کورنۍ کې تر ما بل شوخ هلک نه وه

کله کله به مي د خپلي شوخي له لاسه مور وهلم هم خو دا چې زه له وهلو سره اوس عادت وم ژړل به مي هم نه

دا مهال تازه د شپږو کالو وم له خپل پلار جان سره به کله کله دوکان ته تللم موږ خپل ځانته یو دوکان درلوده نو زه به چې کله کور کې زړه تنګی شومه نو له خپل

پلار جان سره به دوکان ته تللم

کله کله به چې د دوکان کې وم او د مکتب متعلمین به مي لیدل نو زما به هم

مکتب ته شوق کېدلو ډېر وخت به مي پلار ته ویل چې ما هم مکتب کې شامل کړي

خو هغه به ډېر وخت راته ویل زوی جانه لا تر اوسه وړکي يي چې د اووه کالو شوي

بیا به دي مکتب کې شامل کړم

زما به هم ډېره تلوسه وه چې کله به د اووه کالو کیږم او پلار به مي مکتب کې شاملوي

خو ښه وه زما د ډېر ټینګار سره سره په همدي د شپږ کالو عمر کې پلار جان د مکتب شاملولو ته بوتلم

له پلار جان سره مي لاړم د مکتب خواته ډېر خوشحاله وم ځکه چې زما د کاکا

زامن هم مکتب کې ول او زه هم شاميدليم

ډېرو فکرونو کې وم چې ځنګه به مي بکسه شاته اچولي وي ځنګه به مي قلم او کتابچه وي

بلاخره په همدي فکرونو کې مکتب ته ورسيدو

ايداری د مکتب ته لاړو خو بد بختانه چې نه مدير وه په مکتب کې او نه هم سر معلم

په زړه کې مي ويل لکه چې کار مي ونشو شايد اوس هم ډېر وخت ونيسي

خو ښه وه دا وخت د مکتب ملازيم راغلو هغه مي پلار سره ستړي مشي وکړه

بيا يي وويل وروره چا سره مو کار وه؟

پلار مي وويل زوی مي مکتب کې شاملومه سر معلم او مدير به کله راشي؟

ملازيم وويل راځي تاسو دلته کيني اوس به مدير صاحب او سر معلم صاحب راشي

پلار مي وويل سمه ده  ورور جانه

موږ هم لاړو د ايداري مخ ته په چوکيو باندي کيناستو نيم ساعت انتظار هم سخت وي

مګر مجبوره وو چې نيم ساعت مو انتظار کړی وه

ياره دا د دولتي ايدارو کسان هم دومره ناوخته راځي چې مکوه پوښتنه

خو بښه وه سر معلم او مدير صاحب دوي به په پنځه ديرش دقيقو يا هم څلويښته دقيقو کې مکتب ته راورسيدل

سر معلم راغلو زما له پلار سره يي روغبړ وکړو

ما هم سلام واچولو  السلام عليکم ورحمة الله برکاتو

سر معلم وويل عليکم سلام .... بيا يي وويل ماشاء الله ډېر جرأت ناک هلک خو ده

پلار مي وويل وله څه ووايم خو ډېر شوخ ده ټول کور ته يي اور اچولی ده

سر معلم صاحب وويل وله په هر کور کې يو نيم شوخ پيدا کيږي

پلار مي وويل هو وله

بيا سر معلم صاحب وويل چې خيرت وي څنګه مو زموږ خواته راپيښنه کړه؟

پلار مي وويل وله سر معلم صاحب زوي مي مکتب کې شاملومه

سر معلم صاحب زما پلار جان ته وويل زوي مو د څو کالو ده ؟

پلار جان مي وويل سر معلم صاحب د شپږو کالو ده

سر معلم وويل موږ خو له اووه کالو کم عمر ماشومان نه نيسو

پلار مي وويل سر معلم صاحب پوهيږم خو زوی مي د مکتب ډېر شوقي ده وايي چې ما

هم په مکتب کې شامل کړه ډېر له زده کړو سره شوق او اعلاقه لري

هیله کوم زما زوی په مکتب کې یې شامل کړي نغواړم چې د زوی مي هیلي او ارمانونه مړه شي

په سلو امیدونو دلته راغلی ده

سر معلم صاحب ځان سره سر وخوزولو بیا یې وویل سمه ده دا چې ستاسو زوی یو جرأت ناک هلک ده او د درس شوق لري موږ به یې مکتب کې شامل کړو

پلار مي ډېر خوشحاله شو او له سر معلم څخه یې مننه هم وکړه

سر معلم راته وویل نوم د ي څه ده

ورته مي وویل سر معلم صاحب عمر مي نوم ده

هغه وویل سمه عمره زویه اوس دي مکتب کې هم شاملومه

ما ورته وویل خیر ویسي سر معلم صاحب

شکر نبّ وه په مکتب کې یې هم پخیر سره شامل کړم بیا سر معلم وویل عمره زویه سبا ته راشه خپل کتابونه دي هم واخله او یوه بکسه هم درکوو نور به خپل درسونه بنه په شوق سره وایې

ما وویل سمه ده سر معلم صاحب

موږ له سر معلم صاحب څخه مننه وکړه نور راغلو د خپل دوکان په طرف

پورته مي هم وويل موږ دوکان درلوده زموږ دوکان د لغمان ولايت په مرکز کې وه چې موږ به پکي خوراکه شيان خرڅول

ټوله ورځ له خپل پلار جان سره په دوکان کې وم ماښام طرف مي مشر ورور راغلو پلار جان ته مي يي وويل پلار جانه ناوخته نده دوکان نه بندوو ؟

پلار جان مي وويل زويه بند به يي کړو بيا يي وويل تاسو دوکان بند کړي زه به لاړ شم مسجد ته دلمانځه وخت ده

ورور مي وويل سمه ده ځه لاړ شه لمانځه ته موږ دوکان بندوو

موږ هم دوکان بند کړو لاړو خپل کور ته مور جاني ته مي وويل مور جاني پلار جان مي زه نن مکتب کې شامل کړم

مور جانه مي هم ډېر خوشحاله شوه ويل يي افرين بچيه درس وايه کوشش کوه چې لخير سره صنف کې اول نمبر شي بيا درته يو لوکس بايسکل هم اخلم

ما وويل سمه ده مور جاني لخير سره زه به د صنف اول نمبر کس کيږم

مور جاني مي وويل افرين زويه

شپې له ډوډۍ خوړلو وروسته مي مور جاني راته وويل عمره زويه ؟

ما وويل ها څه دي مور جاني؟

هغې وويل پاڅه بچيه نور بيده شه چې سبا سهار به وخته مکتب ته ځې بيا به نشي راويښيدلی

ما وويل سمه ده مور جاني لاړم بيده شولم ټوله شپه کې څو ځله راويښ شومه چې اوس هسي نه د مکتب ناوخته شوي وي

خو چې کله به مي بيرون ته وکتل نو توره شپه به وه بيرته به بيده شومه

اخر هم سهار مهال مور جاني وويل پاڅه عمره بچيه لمونځ او اودس وکړه چې ناوخته نشي بيا به مکتب ته هم روان يي

ما وويل سمه ده مور جاني لاړم اودس او لمونځ مي وکړو بيرته راغلم خپلي بستري ته ننوتلم

خوب خو راته نه راتللو په خپله بستره کې پريوتلم چې يو وخت مور غږ وکړو

عمره ويښ يي؟

ما وويل هو مور جاني ويښ يم څه دي ويل؟

هغې وويل راشه زويه چاي دي وخوره چې بيا د مکتب ناوخته نشي

ما هم وويل سمه ده مور جاني درغلم لاړم چاي خوړلو ته له هغه وروسته مي مور راته پاک

کالي واغوستل ويل يي لاړ شه نور مکتب ته چې ناوخته نشي

ما هم ژر ونکړو لاړم د مکتب په طرف سیده د ايداري په طرف لاړم

سر معلم سره مي سلام عليک کړو له هغه وروسته سر معلم راته کتابونه او بکسه راکړل بيا يي بوتللم خپل صنف ته

زما صنف اول جيم وه

په اول صنف کې مي ډېر کوشش کاوه خو نمبر مي لږ شاته وه همداسي دوهم او دريم ټولګي هم تير شول وخت دومره ژر ژر منډې وهلي چې مکوه پوښتنه

زه بلاخره څلورم ټولګي ته لاړم څلورم ټولګي څخه بيا تر شپږم ټولګي اول نمبر زما وه

پلار جان راسره په درسونو کې ډېر کوشش کاوه او تشويق کولم به يي هم ډېر

دا وخت مور د ماسپښين يوه نيمه بجه به مکتب ته تللو او مازديګر به رخصت کېدلو

شپږم صنف هم دومره په منډه خلاص شو چې مکوه پوښتنه

اووم صنف ته چې لاړم نور هم تکړه شوی وم اووم ټولګي کې هم اول نمبر زما وه

زما د انګيسي مضمون سره ډېره مينه او اعلاقه وه

يوه ورځ مي پلار جان ته وويل چې پلار جانه ورځ تر بلې مي درسونه سخت کيږي زه

غواړم چې د درسونو تر څنګ کورس هم شروع کړم

پلار جان مي وويل سمه ده زويه شروع يې کړه خو کوم کورس غواړي شروع کړي ؟

ما وويل پلار جانه د انګلیسي صنف شروع کومه خو لا معلوم نده چې کوم کورس شروع کړم

مګر صنفيان مي کورسونه وايي له هغو به پوښتنه وکړم چې کوم کورس ښه ده هغه به شروع کړم

پلار جان مي وويل سمه ده زويه له هغو پوښتنه وکړه چې هر کورس بهتره وه هغه شروع کړه

ما وويل سمه ده پلار جانه

سبا ورځ چې مکتب ته لاړم نو له ډېرو صنفيانو مي پوښتنه وکړه ځينو ويل موږ کورس نه وايو او ځينو هم ريشخند وهلو

اخر هم لاړم له بلال جان څخه مي مشوره واخيسته هغه ويل راشه زموږ کورس ته ډېر ښه درسونه يي هم دي او ډېر ښه استادان يي هم دي

ما ورته وويل سمه ده بلال جانه خو ودي نه ويل چې کله درشم؟

هغه وويل کله غواړي شروع يي کړي؟

ما ورته وويل بلال جانه ګوري چې درسونه ورځ تر بلي سخته کيدونکی دي

نو غواړم همدا نن سبا ورځ يي شروع کړم

هغه وويل سمه ده نن ورځ په دوه بجو راشه زه به درسره همکاري وکړم لاړ به شو ته به هم نوي صنف شروع کړي

ما وويل سمه ده مننه بلال جانه چې ما سره دومره زحمت باسي

هغه وويل دا څه وايي عمره هيڅ خبره نده زه دي تل خدمت کې يم

مننه مي وکړه نور دا چې د رخصتي وخت وه لاړو کور ته

زه لاړم د دوکان خواته پلار سره مي خبره شريکه کړه ورته مي وويل پلار جانه دغسي کيسه ده او غواړم د بلال دوي کورس کې زه هم درسونه ووايم

پلار مي وويل سمه ده زويه پخير سره يي ووايي

ما هم  وويل مننه پلار جانه

د ماسښين دوه بجي وي چې لاړم د کورس په طرف او له خپل پلار جان څخه مي رخصت واخيست

کله چې کورس ته ورسيدم نو بلال جان هم راته د کورس غاړه کې ولاړ وه

روغبړ مو سره وکړو

بیا یي راته ویل راځه ځو داخل ته له ایداري د کورس سره به هم خبري وکړو

ما وویل هو یاره ځه چې ځو ناوخته نشي

لاړو د کورس ایداري ته

ایداره کې مو استادانو ته سلام واچولو له سلام وروسته بلال مدیر ته معرفي کړم

ورته یي وویل دا زما ملګري او د مکتب صنفی مي عمر جان ده غواړي دلته انګلیسي ووایي

مدیر اول وویل عمره پخیر سره راغلي

ما وویل مننه

بیا یي وویل عمره تا له دي مخکي کوم بل چیره د انګلیسي ژبه ویلي ده؟

ما وویل نه مدیر صاحب همدا مي اولین ځائ ده چې انګلیسي پکي شروع کومه

هغه وویل سمه ده یو کتاب یي راکړو ویي ویل دا مطالعه کړه

ما هم په بنده او ماته انګلیسي باندي وویل

بيا مدير وويل ته به د بګراون كتاب شروع كړي ايا تاسو كولى شي د سهار په شپږ بجو او ديرش دقيقو كې راشي؟

ما ورته وويل مدير صاحب داسي كوم بل صنف نشته چې د ماسښين په دوه بجو باندى شروع شي ځكه زه او بلال به يو ځائ راځو

هغه وويل نه په دي وخت كې خو كوم نوي كلاس نلرو همدا يو صنف ده چې نوي سبا ورځ شروع كيږې

بيا يي  وويل بلال خو جيګو كتابونو كې ده او ته خو نوي انګليسي شروع كوي

نو چې هر كله تا هم دا ټيټ كتابونه خلاص كړل نو بيا به ته هم له بلال سره يو ځائ راځي

ما وويل سمه ده مدير صاحب سبا سهار به په شپږ نيمو بجو راشم

هغه وويل سمه ده خو ځان سره يو نيم سل افغاني راوړه د كورس فيس چې كتابونه او چپترونه هم درته دركړو

ما وويل سمه ده مدير صاحب

كله چې كور ته لاړم نو مور ته مي وويل مور جاني سبا سهار مي وخته ويښ كړه چې په شپږ بجو او ديرش دقو باندي كورس كې نوي صنف شروع كيږې بايد ورشم

مور مي ويل سمه ده بچيه يي غمه اوسه

زه هم نور دا چې نن ورځ ډېر ستړی وم لاړم بیده شولم سبا سهار په پینځو بجو او دیرشو دقیقو مور راویښ کړم ویل یې پاځه لمونځ او اودس وکړه چې بیا به کورس ته ځې او ناوخته به وي

زه هم ډېر په سختي سره له خوبه راویښ شومه اودس او لمونځ مې وکړو چاي مې هم وخوړلو

چې کله شپږ بجې او لس دقیقې شوې نو ما هم له کور څخه حرکت وکړو

په لاره روان وم ځان سره مې ویل څومره وخت ده دومره وخته به څوک کورس ته نه ځې

خو چې کله پاخه سرک ته ورسیدلم نو ګورم چې خلک او انجوني کورسونو ته روان دي

پوخ سرک به زموږ له کور څخه د دري دقو په اندازه لرې وي

چې لږ وړاندې لاړم ګورم له یو کور څخه دوه انجوني راووتلې ژر مې سر ښکته واچولو او خپله لاره مې غوره کړه

زما له انجونو څخه ډېر شرم کېده

په دې وخت کې مې ساعت ته وکتل ناوخته وه قدمونه مې تیز کړل

چې له هغو انجونو څخه یوې یې غږ وکړو اې وروره

ما نه کتل ځکه زما د انجونو څخه ډېر شرم کېده

هغې بلې انجیلې ورته وویل څه پرې کوې پرېږده یې کوڼ به یې

بیا یې زما د خور نوم واخیست هې د ...... وروره

ما هم شاته وکتل ورته مې وویل څه دې ؟

هغې وویل لږ بریک خو نیسه دومره هم یې کشه مه ځه چیرته ټکر ونکړې

ما ورته وویل نه انشاء الله نه به کیږي

هغې وویل سمه ده د ځواني جوش دې ده هر څه کولی شې

ما ورته وویل امر کوه څه خدمت وکړم؟ چې کورس ته ځم او د کورس ناوخته ده

هغې وویل اوهو هو څومره درس خوان هلک یې بیا یې وویل څو بجې دي؟

ما ورته وویل شپږ بجې او دوه ویشت دقیقې دي
دا بله جیلې چې ورسره وه دې نو نام خدا ښې غټې سترګې درلودلې هغه د چا خبره شرابي سترګې تک سپین مخ لکه شودې

هغې دې بلې ملګرې ته یې وویل ژر ژر ځه چې ناوخته کیږي

ډېر په سختنه مې پوښتنه ورڅخه وکړه ته زما خور څه پیژنې؟

هغي صرف دومره وويل مدرسه کې مي صنفي ده نور هغوي هم لاړل

ما هم خپل قدمونه تيز کړل چې کورس ته ورسيدلم سيده د ايداري په طرف لاړم

مدير صاحب سره مي سلام کلام وکړو هغه هم ثبت نام راته وکړو د ثبت نام ورقه يي راکړه

ما پوښتنه وکړه مدير صاحب زما کوم صنف شو؟

مدير صاحب يو هلک ته وويل او هلکه راشه دا د استاد نجيب الله الکوزي صنف ته بوځه

هغه هلک هم وويل سمه ده نور هغه مخکي او زه ورپسي شومه

چې کله صنف ته ورسيدو نو هلک راته وويل دا دي صنف ده

کله چې صنف ته ننوتلم ګورم صنف کې انجوني او هلکان ګډ ناست دي بيرته ووتلم

شانه بيرته استاد راپسي راغلو ويل يي هلکه دلته څه کوي ؟

ما ورته وويل استاده دلته مدير صاحب ستاسو صنف ده راوليږلم

استاد وويل راځه مهرباني وکړه صنف ته لاړم استاد وويل راځه کينه

ځينو هلکانو راته ځائ نه راکولو ويل به يي دلته زموږ د ملګرو ځائ ده

له دریم قطاره یوه هلک غږ وکړو ورور جان راځه دلته کېن

زه هم ور روان شوم د هغه څنګ کې کیناستم

واقعیت کې هم استاد نجیب الله ډېر ښه درس ورکولو چې کله اووه بجي او لس دقیقې شوي استاد راته وویل هلکه پاڅه ځان دي معرفي کړه

ما هم ښه په جرأت سره ځان معرفي کړو

بیا استاد وویل افرین کینه او مننه

زه هم بیرته کیناستم زموږ صنف به په اووه بجو او دیرشو دقیقو سره خلاصیده

اووه نیمو ته لا ډېر کم وخت پاتي وه چې استاد وویل د نن ورځې د لغاتونو سپیل به سبا ته زده کوي چې پوښتنه کومه

موږ ټولو په یو وار سره وویل سمه ده استاد جان

بیا استاد وویل اول به انجوني ځې بیا به هلکان وځې

موږ هم ودریدلو چې کله ټولي انجوني ووتلي وروسته موږ ووتلو

زه هم لاړم دوکان ته چاي او ډوډۍ مي وخوړل نور مي پلار ته وویل پلار جان زه ځم مکتب ته

هغه وويل سمه ده بچيه لاړ شه خو ګوره درسونو کې دي ډېر کوشش کوه

ما وويل کوشش خو کومه ګوره پلار جانه نه ويني له څلورم نه تر اوسه پوري اول نمبر زما ده چا ورنه نده نيولي

پلار مي اول لږ مسکی شو ويي خندل بيا يي وويل الله ج دي تل کامياب لره زويه

ما هم اول امين وويل بيا مي وويل مننه پلار جانه

نور نو د مکتب په طرف روان شومه چې کله صنف ته ورسيدم نو ګورم دومره څوک ندي راغلي خو بيا هم ښه وه لاړم خپل ځائ کې کيناستلم

لږ وروسته بلال هم راغلو له روغبړ وروسته يي وويل څنګه وه درس دي؟

ما وويل ياره بڅی خونددور درس وه

بلال هم درس ته ډېر تشويق کړلم

د مکتب له درسه لاړم کور ته څکه نن ورخ درس ډېر وه چې کور ته لاړم له سلام اچولو وروسته مي خور ته وويل خور جانو تاسو ډوډۍ خوړلي ده؟

هغي وويل هو موږ خو خوړلي ده مګر تاته به يي اوس راوړم له لږ زنډ وروسته مي خور جاني ډوډۍ راوړه

ډوډۍ مي ښه په شوق سره وخوړله له ډوډۍ خوړلو وروسته لاړم خپل کتابونه مي

راخيستل خپل درس ويلو ته کيناستم يو يا يو نيم ساعت به مي درس ويلي وه چې مور مي راغله ويل يي هلکه پاڅه لمونځ او اودس وکړه

زه هم پاڅيدم لاړم مسجد ته لمونځ او اودس مي وکړو بيرته کورته راغلم بيا هم خپلو درسونو ته کيناستم درس مي تر مازديګره پوري مي خپل د نن ورځې ټول درس خلاص کړو

له درس وروسته لاړم د مازديګر لمونځ مي وکړو له لمانځه وروسته بيرون ته ووتلم

ګورم د کور مخکي هلکانو د کرکچاه لوبه کوله دغه لوبه زموږ په کلي کې يوه دوديزه لوبه ده چې د ويالي له غاړي به يو خواته او بل خواته خيز اچوي څو هلکان به له ويالي خيز اچوي او يو هلک به هغوي ګير کوي چې هر څوک ګير شول هغه به نور کسان ګير کوي

چې موږ به دا لوبه زموږ د کور مخکي په وياله کې کوله

زه هم ورغلم خپل ملګري يعقوب ته مي وويل يعقوبه زه هم لوبه کومه

هغه وويل راځه کنه دا دومره وخت چيره ورک يي؟ هيڅ کلي کې نښکاريږي؟

ما وويل ياره بس څه وکړو موږ يو درسونه دي او دوکانداري ته نور هيڅ کار هم نشته

هغه وويل خير راځه اوس نو مصروفيت دي ډېر ده څه ووايو تاته

زه هم لوبي کولو ته ورغلم تر ماښامه پوري مو ښه ځانونه پکې ستړي کړل د ماښام له لمانځه
وروسته بیرته کور ته لاړم

ماښام چې کله کورته لاړم ګورم مور مي سخته راته غوسه وه ويل يي چیره ورک وي؟

ما ورته وويل مور جاني بیرون مي له هلکانو سره لوبه کوله

هغي وويل ښه نو دا پیسي دي اوبه ویسي د تجار زوي يي پلار ګټلی ته اسانه ده

ما وويل نه مور تر مازدیګر ناوخته مي درس وويل وروسته له هغه ووتلم

مور مي وويل سمه ده زویه

د شپي له ډوډۍ خوړلو وروسته مي لږ څه درس ځان سره تکرار کړو نور لاړم د خوب
کولو لپاره خپل د خوب کوټي ته

خوب چیرته وه د نن ورځي جیلي مي سترګو سترګو ته کېدله په زړه کې مي يو ډول
احساس کاوه چې دا ولي دومره را په زړه ده

خو بيا هم يو وخت بیده شوي وم

سهار مور غږ وکړو عمره بچیه پاڅه لمونځ وکړه چې ناوخته ده بيا به کورس ته هم ځې

زه هم پاڅیدم لمونځ مي وکړو لږ مي قرآن ځان سره تلاوت کړو نور مي په منډه منډه چاي

وښنلو دا ځل پوره په شپړو بجو باندي د کورس په طرف روان شوم

ما ويل که هغه د پرون جيلي نن هم ووينم خو تر کورسه پوري مي هيڅ هغه جيلي ونه ليدله

يوه هيله مي په زړه کې نن مړه شوه ځکه د چا لپاره چې له کوره وتلي وم چې ويې وينم هغه مي ونه ليدله

په همدي فکرونو کې صنف ته ننوتلم کورم احمد او محمد دواړه راغلي دي

لاړم زه هم د هغوي ځواته کيناستم محمد رانه پوښتنه وکړه عمره څنګه درس دي ياد کړی ده ؟

ما وويل هو ښه سم مي ياد کړي دي

هغه وويل ښه مقصد چې ياد کړي دي وي ځکه چې استاد پوښتنه هم کوي او وهل هم کوي

ما وويل انشاء الله چې نه به غلط کيږم

موږ لا خبري نه وي خلاصي کړي چې استاد راننوتلو له ټولو څخه يي پوښتنه وکړه

چې کله زما نوبت شو نو ويي ويل عمره راشه د تختي سر ته

زه هم ور روان شوم چې کله د تختي سر ته ورسيدم نو استاد يو څو انګريزي لغاتونه وويل ما هم وليکل

بيا يي وويل د لغاتونو معنې هم وليکه

ما ورته معنې هم وليکله

استاد راته وويل افرين عمره ډېر دي ښه ياد کړي دي

ما هم مننه وکړه نور راغلم خپل ځائ ته کيناستم استاد بيا درس شروع کړو

تر پرونه مو نن يو څه درس سخت وه خو خوندور هم وه اخر کې يو ځل بيا استاد کورنۍ دنده راکړه او بيا يي د پرون په شانتي وويل اول دي انجوني ووځې بيا هلکان

موږ هم همداسي وکړل اول انجوني ووتلي بيا هلکان ووتلو له کورس څخه ډايرک لاړم د دوکان په طرف باندي

دوکان کې مي ډوډۍ وخوړه بيا لاړم په طرف د مکتب د پرون ورځ نن هم تکرار شوه

له مکتب وروسته هم همداسي وه خو نن ورځ مي کور کې لږ ډېر درس وويلو

ځکه ورځ تر بلي درس سختنه کېدلو نو ښه دا وه چې ما هم بايد زحمت ويستلی وه

نن ورځ بيا هم بيرون ته ووتلم ګورم نن ورځ له يعقوب دوي سره انجوني هم لوبه کوي

چې لږ وړاندي لاړم ګورم هماغه د تيري ورځې انجوني هم وي ډېر حيران شوم

په زړه کې مي په حيرانتيا سره وويل واه واه دا ګوره دا د حورو کليواله هم دلته راغلي ده

زړه مي ډېر ټوپونه وهل چې زه هم ژر لوبي ته ورودانګم

يعقوب ته مي وويل زه هم لوبه کومه

هغه نن نه پوهيږم کوم غرور اخستی وه ويل نه ياره تا پکي نه منو هم دوکه بازي کوي او هم غالي

ما وويل ياره نه يي کومه خو ومو نيسه

هغه وويل مړه کنه وايم نه دي نيسم بيا دي نه نيسم

زه هم بيرته د کور په طرف روان شومه ځکه ځائ راته خوند رانکړو

چې هغي ښايسته جيلي يعقوب ته وويل خو ويي نيسه بل ځل دوکه نکوي

يعقوب هم وويل راځه او هلکه چې اوس دي ضمانت وشو

زه هم ورغلم له ډلي سره يو ځائ شومه ښه په خوند سره مو لوبه وکړه

ياره کوم ځائ کې چې يار وي لکه په هغه ځائ کې چې پاچاهي وي سخت خوند يي وکړو

او هغې جيلې هم په دې کم عمر سره زما زړه له سيني څخه وړي وه سخته خوندوره لوبه يې کوله څو ځله يې زه ګير کړم

اخر هغې بلي جيلي دی ښايسته جيلي ته وويل هي نيها راځه چې ځو کور ته ناوخته ده

هغې هم ورته وويل سمه ده ځه چې ځو

ما هم تر ښه ډېرو په نيها پسې وکتل اخ څه خوندور نوم وه نيها

څومره په خوند يې قدمونه ايښودل څومره مې زړه کې ارمانونه پيدا شول

چې کله نيها دوي لاړل نو له يعقوب څخه مې پوښتنه وکړه هلکه دا څوک ول او له کومه دي پيدا کړي دي ؟

هغه وويل دا يوه يې مريم ده او دا بله هم نيها ده

ما وويل دوي دلته څه کوي ؟ د دوي کور خو پاس کلي کې ده

هغه وويل د نيها دوي کور پاس کلي کې ده او مريم چې ده هغه بيا همدلته کې اوسي زموږ له کور څخه يې يو ينځه کوره لري کور ده

ما وويل خې نيها دلته څه کوي د هغوي کور خو پاس کلی کې ده

يعقوب وويل هغه د مريم د عمه ( ترور ) لور ده

ما وويل ښه ډېر ښه

ډېر خوشحاله هم شوم بيرته لاړم کورته شپې به مي ځان سره د نيها او خپل راتلونکي فکرونه کول له نيها سره به په چکرونو روان وم  د خوشحالي حد تمام وه دومره خوشحاله وم

سبا سهار د معمول په څير پاڅيدم لمونځ اودس او بيا د کورس په طرف تګ

نن ورځ چې کله زه لاړم د سرک سر ته ګورم نيها او مريم هم رواني دي د کورس په طرف

ما خپل قدمونه تيز کړل او له هغوي څخه مخکي شومه چې په دي وخت کې نيها غږ کړل

او هلکه دومره هم ځان مه ايله کوه

ما هيڅ ځان پوه نکړو او همداسي مي خپله لاره ونيله

نن ورځ چې کله له کورس څخه ووتلم نو نيها دوي هم راووتلي دا ځلي مي د هغوي تر شا ځان کړلو

ګورم هغوي د اصلاح ليسي ته لاړلي

زه دومره پوهيدم چې دي ليسه کې يوه ښوونکي خپلو زده کوونکو ته وړيا صنف جوړ کړی ده او ورته درس ورکوي

هغوي هم همدي مکتب ته لاړلي دا يوه خصوصي ليسه وه

ما نو اوس د نیها دوي کورس هم پیدا کړو ډیر خوشحاله شوم ځکه کوم څه پسي چې لټیدلم هغه ما اوس پیدا کړي وه

نور ما هم ځان سره تصمیم ونیولو چې زه به هم د نیا دوي کورس کې ځان شاملومه

زما له استاد نجیب الله سره ډیري کمي ورځې پاتي وي

چې یوه ورځ استاد وویل سبا مو ټول فیسونه راوړي او نوم لیکنه وکړي

زموږ چې اخریني ورځي لا استاد نجیب سره وي یوه ورځ له کورس څخه لاړم مکتب ته

کورم مدیر صاحب ټول متعلمین د لین سر ته پورته کړي دي او اعلان یي وکړو

چې زموږ کلني ازمویني ته یوازی لس ورځي پاتي دي او سبا راشي چې مهال ویش درکړو

موږ ټولو وویل سمه ده مدیر صاحب

له مکتب څخه لاړم دوکان ته په دوکان کې مي پلار جان ته وویل پلار جانه زما کورس له استاد نجیب سره خلاص شو زه غواړم دا ځل بل کورس کې درس ووایم

پلار مي وویل ولی بچیه دلته لکه چې ښه درس نه ورکوي؟

ما وویل نه پلار جانه دا ډیر لري ده نشم کولی ورشم او غواړم د اصلاح خصوصي لیسه کې کورس ووایم

پلار مي وویل سمه ده بچیه چې څنګه ستا خوښه وي

نن شپه هم همداسي ټوله بیا په سوچونو کې تیره شوه ځان سره به مي ویل ایا نیها به هم له ما سره یوه صنف کې راشي؟

ایا هغه به اوس هم هغه ځائ کې وي؟ ایا هغه به ما سره خبري وکړي؟

ټوله شپه همدا فکرونه ول چې په همدي سوچونوکې سهار شو

لاړم لمونځ او اودس مي وکړل نور مي د کورس طرف ته ځان اماده کړو لاړم اصلاح لیسي ته کورم هیڅوک هم نشته لږ څه نور هم وړاندي لاړم ګورم له یو صنف څخه اواز راتللو

ځان مي هماغه ځائ ته ورسولو ګورم یوه استاد شاګردانو ته درس ورکولو

کله چې استاد ولیدلم نو ویل یي څه مشکل ده؟

ما اول سلام واچولو او بیا مي ورته وویل استاد جانه د کورس پوښتنه مي کوله

هغه مسکی شو ویل یي راځه سم ځائ ته راغلی یي

زه هم لاړم ګورم صنف کې په لومړي قطار کې نیها او مریم هم څنګ په څنګ ناستي وي

زه هم لاړم د صنف په اخر قطار کې کیناستم

استاد بیرته خپل درس ته ادامه ورکړه کله چې استاد پنځه دقي اضافي وخت راکړو نو

ماته يي وويل هلکه پاڅه ځان معرفي کړه

زه هم پاڅيدم ځان مي معرفي کړو

بيا ښوونکي پوښتنه وکړه کومه ليسه کې يي ؟

ما وويل استاد جانه د روښان په عالی ليسه کې يم

هغه وويل افرين د کوم ټولګي متعلم يي ؟

ما وويل استاد جانه د اتم ټولګي زده کوونکی يمه

استاد وويل ماشاء الله افرين تل کوشش کوه او هو سبا ته ځانته کتاب هم واخله

ما وويل سمه ده استاد جانه خو کوم کتاب واخلم ؟

هغه وويل Lets go 3 واخله

ما هم وويل سمه ده استاد جانه

هغه بيا وويل دلته لغمان کې خو نه پيدا کيږي زه يي نن غرمه دغو نورو زده کوونکو ته راوړم که ستاسو خوښه وي تاسو ته به يي هم راوړم

ما وويل سمه ده استاد جانه راته يي راړو خو څو کيږي ؟

هغه وويل دوه سوه افغاني يي کيږي

ما وويل استاد جانه پيسي نن درکړم او که سبا ته ؟

هغه وويل زړه دي خپل چې نن يي راکوي او که سبا ته

ما هم جيب ته لاس کړو استاد ته مي پيسي ورکړي ورته مي وويل دغه دي استاد جانه

هغه وويل سمه ده مننه کوم عمره

ما ويل هيله کوم استاد جانه

استاد دا ځل د ګرامر په بخش کې درس وکولو واقعيت کې هم استاد ډير ښه درس
ورکولو

بس وختونه تيريدل زه او زما په مغز کې نيها وه هر چيره به د نيها فکر راسره وه

چې په تشه لار به هم تللم فکرونو کې به ډوب وم فکر به مي کولو چې نيها زما لاس خپل
لاس کې کلک نيولی وي او موږ سره چکر وهو

شپه او ورځ د نيها يادونه ول اوس مي همدا فکرونه او چرتونه کار شوي وه

په تور پيکي دي خاوري واوړه ګرانه

په تور پيکي دي شهيد کړل زما ارمانونه

ټپه

تل به مي درسونو کې هم کوشش کاوه ځکه ما به کور کې تل ویل چې زه به یو تکړه کس کیږم راتلونکي کې

یوه ورځ ښوونکي وویل دوه دوه نفره خپلو کې سره محاوره وکړي چې بیا مو د تختي سر ته پورته کومه

موږ هم سرونه په کتابونو ټیټ کړل او محاوره مو شروع کړه

ښوونکي اول زه او بیا له ما سره فواد پاڅولو ویل یي تاسو دوه یو بل سره محاوره وکړي

موږ هم یو بل سره محاوره وکړه اخره کې ښوونکي له ټولو سره محاوره وکړه

اخر هم زما نوبت ورسیده ښوونکي راڅخه پوښتنه وکړه ما هم ورته ښه سم ځوابونه ورکړل

بیا د نیها نوبت شو له هغي یي چې پوښتنه وکړه هغي هم هغه څه وویل کوم چې ما جواب کړي وه لکه : ښوونکي وویل کومه میوه ده خوښه ده؟

ما ویل د ام میو نیها هم همدا جواب ورکړو

زما د خوښي رنګ تور وه نیها هم تور رنګ انتخاب کړو

زما د خوښي خواړه ورجي او غورمه ( قورمه ) وه د نیها هم

کوم جوابونه چې ما ورکړي ول هغه جوابونه نيها هم ورکړي ول

ښوونکي نيها ته وويل کينه

نيها هم کيناسته ما نيها ته کتل چې نا څاپي هغې هم زما په لوري راوکتل

لږه مسکې غونډې شوه

ما زر سر ښکته واچولو ځان سره دومره خوشحال وم چې حد وربانديي تمام وه

له کورس څخه چې رخصت شوم لاړم د دوکان په طرف ټوله ورځ د نيها سوچونه او فکرونه ول چې څنګه يې ماته وخندل؟ د هغې به هم خوښ وم ؟

ايا هغه هم ما سره مينه لري؟

همدا فکرونه مې مغزو ته راتلل نن ورځ مکتب نه وه درس مي ويلو ځکه چې زموږ کلني ازمويني ته ډېر کم وخت پاتي وه

د ماسښين تر دوه بجو په دوکان کې کيناستم نور لاړم کورته دي ته انتظار وم چې کله به شپه سبا کيږي او نيها په کورس کې ووينم

شپي خپله بيستر کي شل رقمه فکرونه مي کول ويل به مي څنګه نيها به راسره خبري وکړي

زه به هغې ته سلام ورکړم

بیا مي ویل هسي نه چې نور څوک خبر کړي

یا ښوونکي ته ووایي او هغه مي بیابه کړي

بس همدا فکرونو کې شپه سبا شوه یو وخت د سهار د اذانونو غږ راتللو

ځان سره مي وویل چې اوس به بیده شم هسي نه سبا څوک راباندي پوه شي

چې زه ولي ټوله شپه ویښ یم زه هم ویده شولم یو وخت مور غږ وکړو عمره بچیه پاځه لمونځ وکړه چې بیا به کورس ته ځي

ما هم څه ونه ویل پاڅیدم لمونځ او اودس  مي وکړو بیرته راغلم خپله بستره کې ویده شوم

چې بیا مي مور غږ وکړو پاځه له شپږو هم تیري دي ناوخته دي کړه کورس ته نه ځې؟

زه هم په منډه پاڅیدم ځان مي برابر کړو لاړم د کورس خواته

چې کله صنف ته ننوتلم ګورم ټول زده کوونکي شته خو نیها نشته

ځان سره مي ویل شاید ناوخته راشي شاید ورباندي ناوخته شوي وي لکه څنګه چې پر ما ناوخته شوه

نیم ساعت مي په انتظار کې تیر کړلو خو هغه رانغله داسي وم لکه چا مي چې په ستوني باندي پښنه ایښې وي

خو خير صنف ډېر په سختي سره خلاص شو زړه مي وه كورته لاړ شم خو نكيده ځكه ويل مي كه دوكان ته لاړ نشم پلار راته په غوسه كيږي ځكه خو دوكان ته لاړم

تر مازديگر پوري په دوكان كې ناست وم مازديگر وختي لاړم د كور په طرف كور كې مي لږ څه د مكتب كتابونه هم مطالعه كړل خو د يو چا ياد هيڅ د كتاب لوستلو ته نه پريښودمه

چې ما به كتاب لوستل شروع كړل نو د يو چا ياد به بل طرف ته يوړلم

په همدي فكرونو او درسونو كې وم چې كوچني خور مي راغله ويل يي لالا هغه جيلي دي غواړي ؟ ؟!!!!!

زه هم پاڅيدم د دروازي خواته لاړم هيڅ مي باور نه كيدلو لكه هر څه چې خوب وي

دروازه كې نيها او مريم ولاړي وي دا هم سخت خوند كوي چې مينه دي د دروازي شاته ستا انتظار كوي

سلام كلام مو سره وكړو نيها ته مي وويل ستاسو له ما سره كار وه ؟

هغي وويل هو تاسو سره

ما وويل ښه سمه ده امر كوه څه خدمت كولی شم ؟

هغي وويل كه هغه ستا د نوټ كتاپچه راته راكړی

ومي ویل کتابچه خو څه کوي که مي ځان هم غواړي درکومه يي یوسه يي

نیها: څه دي وویل؟

زه : هیڅ هم نه سمه ده کتابچه به درته راوړم

لاړم څه په منډه مي کتابچه راړو څومره خوشحاله یم چې حد پري تمام ده

په زړه کې مي ویل راځه کتابچه کې ورته د زړه خبره ولیکه خو بیا مي مناسبه ونه ګڼله ځکه دا يي اولین ځل وه چې زما دروازي ته میلمه راغلي وه

خیر کتابچه مي ورکړه نیها لږ څه مسکي شوه او نوره لاړه

دومره خوشحاله وم چې حد تمام وه فکر مي کولو لکه ستوري په اسمان کې یم او هر څه وینم ټوله نړي وینم هغه د خلکو خبره بیخي په ځمکه نه وم

ټوله شپه مي بیا هم هیڅ خوب ونکړو نیها د هغي مسکا او دا ناز او ادا اخ اخ نو سړی وژني

سبا سهار مي بیا ځان د کورس لپاره تیار کړلو ښي پاکي جامي مي واچولي ځان مي ښه سم تیار کړلو نور لاړم د کورس په طرف چې کله د نیها دوي دروازي ته ورسیدم نو زړه کې مي ویل کاشکي نیها هم راووځي

خو داسي ونه شول نیها نن ورځ مخکي تللي وه چې کله کورس ته لاړم صنف کې دري کسان ول یوه نیها مریم او یو بل کوچني هلک

ما هم سلام واچولو لاړم خپل ځائ کې کیناستلم

چې لږ زنډ وروسته نیها زما خواته راغله

له زړه مي یو الله خبر وه زړه مي داسي ټوپونه وهل چې مکوه پوښتنه

هغي راته کتابچه راکړه ویل یي ماشاء الله ډېر ښایته خط مو ده

ما هم په ګوډه ماته ژبه مننه وکړه ځان سره مسک هم شوم

نیها بیا هم مسکي شوه او لاړه

زما له نیها سره ورځ تر بلي مینه زیاتیده ورځ تر بلي به هغه راته ګرانیده ورځ تر بلي مي په هغي مینه ډېریده هیڅ د جدا کېدو کوشش هم نکېده

کله چې زموږ کلني ازمویني ته یوه ورځ پاتي شوه نو استاد وویل چې تر هغو پوري ازمویني نه وي خلاصي شوي تر هغو پوري کورس رخصت ده

بیخي ډېر خفه شوم ځان سره مي ویل اخر دا امتحانونه به کله خلاصیږي

شپاړلس امتحانونه مو ول داسي سخت تیر شول چې مکوه پوښتنه په دغو شپاړلس ورځو کې ورځ تر بلي ډنګریدم ورځ تر بلي مي رنګ توریده

کور کې به ټولو راته ويل دا تا باندي څه وشول چې دومره دي رنګ تور شوی ده او ورځ تر بلې ډنګرېږي؟

ما به ويل بس څه وکړم نو درسونه سخت دي او امتحانونه هم دي ځکه خو داسي کيږې

وروسته له شپاړلس ورځو چې کورس ته لاړم نو نيها مي صنف کې وليدله اخ دومره ښايسته ښکاريده لکه د ښوارلسم سپوږمي

نيها راته داسي په ځير ځير کتل چې مکوه پوښتنه

ما هم ښه ډېر ورته وکتل ځکه ما هم د دغو اته لس يا نولس ورځو قصور په يوه دقيقه کې وويستلو

په همدي وخت کې نيها راغله زما خواته ويل يې ستړی مشي

ما وويل مننه تاسو هم ستړي مشي

هغې وويل مننه بيا يې وويل کولی شم ستاسو د نوټ کتابچه واخلم ځيني نوټونه رانه پاتي دي هغه پوره کومه

ما هم ورته کتابچه ورکړه ورته مي وويل هو دغه ده واخلي

کتابچه يې واخيسته لاړه خپل ځائ کې کيناسته

لږ وروسته استاد هم راغلو سلام یي واچولو بیا یي وویل څنګه وه رخصتي ښه تیره شوه؟

ټولو وویل هو ښه وه خو ما په زړه کې ویل څه مرګ ته ښه وه داسي شي خو یي رانه جوړ کړو

بیا استاد وویل عمره څنګه داسي ډنګر شوي یي لکه چې کور کې درته ډوډۍ نه درکوي

ټولو وخندل

ما وویل نه استاد جانه ډوډۍ خو راکوي بس لږ څه مریض وم

استاد وویل څنګه مریضي دي وه او اوس څنګه یي ؟

ما وویل استاده زړه مي درد کولو اوس له پخوا یو څلور پنځه فی صده ښه یم

ټولو راته په ځیر ځیر وکتل

استاد وویل ښه الله ج دي درته عاجله شفا درکړي دا خو ډېر سخته ناروغي ده

ما وویل مننه استاد جانه زه بیرته خپل ځائ کې کیناستم

استاد بیا وویل دا نور هلکان چیرته دي؟

ټولو وویل شاید نن رانشي استاد هم درس شروع کړو

نن راته نیها ډېر کتل زړه کې دومره خوشحاله وم چې حد تمام وه

کله چې صنف خلاص شو نو استاد وویل اول به انجوني ووځې بیا هلکان

موږ هم وویل سمه ده

انجوني ووتلي وروسته موږ هلکان ووتلو ګورم نیها هم په لاره کې ولاړه وه

چې کله زه د هغې له خوا تیریدم نو غږ یې وکړو عمره

اخ څومره په خوند یې زما نوم واخیست اوففف نو څه خوند یې کاوه د هغې له اواز سره په خپل نوم هم مئین شوم

ما وویل څه دي؟

هغې مننه وکړه بیا یې وویل هن دا کتابچه دي واخله

ما هم کتابچه واخیسته او لاړم د دوکان په طرف تر ماښامه په دوکان کې ناست وم ماښام مو دوکان بند کړو نور لاړم د خپل کور په طرف

کور هم کله کله راته سور اور کیده ځکه چې ځیني وخت به مې کور کې زړه توریده

شپې او ورځې همداسې تیریدې چې یوه ورځ بلال دوکان ته راغلو ویل یې عمره سبا ته راشه مکتب ته چې نتایج اعلان کیږي

ما هم وویل سمه ده درځم

شپې به مې ځان سره فکرونه کول چې څنګه زه به کوم نمبر کې راغلی یم

ځکه ټولو ازموینوکې راسره د نیها فکرونه ول درس مرس نه وه

ټوله شپه د نتایجو په اول او اخر نمبر کیدو کې تیره شوه بلاخره سبا لاړم د مکبت په طرف چې کله نتایج اعلان کېدل نو استاد وویل دا ځل به د صنف اول نمبر د چا وي؟

ټولو وویل عمر !!!!

استاد وویل غلط ځواب ده خو لنډه دا چې استاد وویل د صنف اول نمره مو حبیب ده او دوهم نمره مو عمر ده

حبیب وویل او هلکه څنګه داسي شاته پاتي يي ؟

ما وویل بس لږ مشکل وه ځکه خو وروسته به کوشش کومه

هغه وویل سمه ده زما درسونه هم داسي په چټکي روان ول چې مکوه پوښتنه

زه به وروسته له دي هره ورځ کورس ته تللم چې په کومه ورځ به مې نیها ونه لیدله په هغه ورځ به داسي وم لکه چا چې بندي کړی یم

نیها به هم هره ورځ تر ډېرو راکتل چې کله به ما ورته فکر شو نو هغي به مخ بل طرف ته اړولو

ژوند ټول همداسي په غم لړلي روان وه یوه ورځ ما په خوشحالي تیره نکړه

د شنبي ورځ وه چې کورس ته لاړم نو ګورم چې په ټول صنف کې دري تنه ناست دي او دري واړه انجونې نېها مریم او یوه بله جیلي

نن هم راته نېها ډېر کتل یوه ورځ استاد وویل کتاب مو کم پاتي ده ډېر کوشش وکړي چې امتحان کې ښې نمبري ویسي او شاید کورس هم بسته کړو ځکه پخوا به شل، پنځه ویشتت کسان راتلل اوس نهه یا لس راځي د کورس هم خوند نشته

موږ هم وویل سمه ده استاد جانه

له کورس څخه لاړم د دوکان په طرف دا چې کلني ازموینه مو تیره شوي وه او مکتب رخصت وه نو په دوکان کې تر ناوخته کیناستم او بیا لاړم کورته د انګلیسي ژبي لغاتونه مي ښه سم یاد کړل

تر ماښامه پوري مي درس شروع کړو چې ماښام مي مور راغله ویل یي عمره راځه چې ډوډۍ خورو

ما هم کتابونه په بکسه کې کیښودل لاړم ډوډۍ مي وخوړه نور لاړم د خوب ځائ ته

خوب کله کېده بس زه او د نېها فکر ځان سره به مي ویل ایا پلار به یي هغه راکړي؟

څنګه به خپل مور او پلار خبرومه؟

ټوله شپه همدا فکرونه او چرتونه ول هره شپه به لکه کال تیریده

څو ورځې وروسته استاد وویل سبا ورځ ځانونه برابر کړي چې امتحان اخلم

موږ هم وویل سمه ده

چې کله له کورسه لاړم نو ښه ډېر درس مي وویلو شپې مي کور کې هم تر ناوخته درس وویلو یو وخت مې مور وویل ویده شه ناوخته ده سبا به کورس ته ځې

ورته مي وویل سمه ده ویده کېدل چېرته ویل هره شپه به د یو چا یاد خوب ته نه پرېښودلم

د یو چا سترګو د یو چا قدمونو د یو چا مسکا ناز ادا هیڅ خوب ته نه پرېښودلم

خو خیر څه په مشکل سره ویده شوم

سبا سهار لاړم کورس ته امتحان مو ښه وه دومره سخت نه وه ځکه ما ټوله شپه زحمت هم ویستلی وه

اخر امتحان هم شروع شو ورقه مي ښه په دقت سره حل کړه

اولینه ورقه نیها ورکړي وه دوهمه ما ورکړه

نیا راته ډېر کتله ما هم ورته ښه ډېر وکتل دومره مو یو بل ته وکتل چې بیخي یو په بل کې سره ورک شوو

نیها راته داسي ښکاریده لکه کوم څه چې وایي

استاد وویل سبا خو جمعه ده بل سبا مو په نتایجو پسي راشي

موږ وویل سمه ده زه لاړم خو په ټوله لار نیها راته ډېر کتل داسي معلومیده چې کوم څه وایي

خو فکر کومه چې خپلي پښتو اجازه نه ورکوله چې څه ووایي

زه هم لاړم نور د دوکان خواته په ټوله لاره کې مي نیها سترګو ته کېده

ځان سره مي ویل چې اخر به نیها څه غوښتل چې ماته یې ووایي ؟

اخر ما هم ځان سره تصمیم ونیوه چې زه به نیها ته د شنبي ورځ د خپل زړه خبره کومه

جمعه ورځ داسي تیره شوه لکه کالونه داسي غټه جمعه ما په خپل عمر کې هم نه وه لیدلي

اخر هم د شنبي سهار شو ځان مي ښه سم جوړ کړو ویښته مي هغه د خلکو خبره شیږ نوي جوړ کړل

نوي جامي مي واچولي ځان مي داسي جوړ کړلو لکه زوم

چې کله د نیها دوي کور خواته ورسیدم نو ګورم چې د نیها دوي دروازي ته غټ قلف پروت ده ځان سره مي شل رقمه فکرونه کول چې دا به ولي قلف وي

زړه ته به مي په دي خبرو تسلي ورکوله شاید چیرته په چکر تللي وي یا هم شاید د کوم خپلوانو یې واده وي هغو ته به ورغلي وي

په څه سوچونو کې مي ځان کورس ته ورسولو

ګورم صنف کې یو څو تنه انجوني او یو څو هلکان د مریم په شملو ول

دا صنف بیخي راته زندان ښکاره شو ځان سره مي ویل نیها ولي نده راغلي

چې په همدي کې استاد هم را دننه شو د امتحان ورقي هم ورسره وي

له سلام کلا وروسته استاد له مریم نه پوښتنه وکړه نیها چیرته ده؟

هغي استاد ته وویل هغه نوره نه راځي هغوي پاکستان ته کډه شول !!!!!

چې د مریم له خولي مي دا خبره واوریده نور په ځان پوه نشوم یو وخت مې سترګي لوڅي کړلي ګورم په روغتون کې پروت وم

ځان راته داسي معلومیده لکه چې ښه غټ شي مي ورک کړي وي ورک کړي خو مي وه خو د خفګان هم اخرین حد وه سم د لیونیانو غونډي شوي وم دري ورځي مي په شفاخانه کې تیري کړي

په څلورمه ورځ مي غوښتل چې کورس ته لاړ شم خو په کور کې راته هیچا هم اجازه رانکړه ویل یي مه ځه ناروغ یي

اخر ي لس ورځي کور کې تیري کړي نور مي صبر ونشو په یولسمه ورځ مي ځان تیار کړو د کورس په طرف تللم چې مور مي وویل عمره زویه چیرته ځې؟

ما وويل مور جاني زه ځم د کورس خواته

هغې وويل مه ځه لا سم نه يې جوړ شوي بيا بله ورځ لاړ شي

خو ما وويل نه مور ښه يم او تللی شم بس حرکت مي وکړو لاړم د کورس په طرف خو چې کله د نيما دوي د دروازې خواته ورسيدم نو ګورم دروازه هماغسې بنده وه زړه کې مي يو رقم درد پيدا شو

زړه مي دومره ډک شو چې حد پرې تمام وه ځان سره مي ښه ډېر وژړل نور چې ښه مي زړه تش شو لاړم د کورس په طرف

چې کله کورس ته ورسيدم نو ټولو صنفيانو مي راته کتل فواد له خپل ځايه را جيګ شو له لاسه يې ونيولم خپل ځائ کې يې کينولم

چې لږ وروسته استاد راغلو له سلام کلام وروسته يې وويل هلکه عمره ته دلته څه کوې کور کې به ناست وې هسې نه اوس بيا مغزي حمله دربانديې راشي

يو څه وخت وروسته به راتللې

ما وويل نه استاده اوس خو شکر ښه يم

استاد وويل الله ج دې تل ښه لره

ما هم مننه وکړه

استاد خپل درس شروع کړو خو زما ټول فکر د نېها خواته وه د هغې غټې سترګې د هغې خندا د هغې کټل زما په طرف اوففففف نو سړی وژني

هيڅ مې درس ته پام نه وه چې يو وخت استاد وويل دغه تعريفونه ستاسو کورنۍ دنده ده سبا به يې ياد کوي

موږ وويل سمه ده نور کورس رخصت شو خو چې کله د کورس له دروازې ووتلم نو مريم راته غږ کړو ويل يې عمره وروره وديږه يو څه درته وايم

زه هم ودريدم

مريم چې زما خواته راغله يو قاغد يې راکړو ويل يې هن دا واخله

ما وويل دا څه دي ؟

هغې وويل چې کله کور ته لاړي نو ويې ګوره او هو ريښتيا تا هغه کتابچه ليدلي ده چې کومه يوه نېها له ازموينو وروسته تاته اخيستې وه؟

ما وويل نه څنګه ؟

هغې وويل چې کورته لاړي هغه کتابچه هم وګوره او دا قاغد هم

نور مې طاقت ونشو د کور په طرف مې منډه کړه چې

کله کور ته ورسیدم غوښتل مي په منډه خپلي کوټي ته ځان ورسومه چي مور مي رامنډه کړه ويل يي زويه خيرت ده څنګه دي رنګ داسي ژيړ اوختي ده؟

ما وويل هيڅ خبره نشته مور جاني زه روغ جوړ يم

خپلي کوټي ته ننوتلم د کتابونو الماري مي خلاصه کړه هماغه کتابچه مي پيدا کړه کوم چي نيها راکړي وه خلاصه مي کړه له سرو ورقو وروسته په يوه سپينه ورقه کي په ښايسته خط ليکل شوي وه :

سلام عمره په دي هيله چي د رخصتي ورځي به دي پخير سره تيري کړي وي

دا په تا څه شوي دي ؟ ولي داسي خراب شوي يي؟

ښه پوهيږم چي دا ټول زما له لاسه زه پوهيږم چي ته څومره له ما سره مينه لري

ستا له دي بار بار کتلو څخه ښکاريږي چي ته هم په ما مئين يي خو قسم که خو ما هم د رخصتي ورځ په خوشحالي کي تيري کړي وي

په اخره کي يي داسي ليکي وه زه تا سره ډيره مينه لرم عمره

کله چي دا ليک مي ولوستلو او چي خپل ګيروان ته مي فکر شو دومره مي ژړلي وه چي په سترګو کي مي اوښکي وچي شوي وي ګيروان مي دومره لوند وه چي تا به ويل يو سطل اوبه دي ورباندي شيندلي دي

ژر مي هغه ليک له جيبه راوويست کوم چې مريم راکړی وه

په هغه ليک کې يي ليکلي ول سلام عمره په دي هيله چې ښه به يي

پوهيږم چې تا هغه ليک نده لوستلی که دي لوستلی وه ځواب به دي ضرور راکړی وه

زه هم ښښنه غواړم ځکه ورور مي بي خبره راغلو د جمعي په ورځ او مور يي د پاکستان په طرف بوتللو پلار هم راته څه نه وه ويلي ګني تاته به مي خبر درکړی وه

بيا هم ښښنه غواړم

پام کوه چې هيره مي نکړي

ستا خوږه مينه نيها

له دي ورځي وروسته ما بيا د خوشحالي ورځ ونه ليدله

او تل مي دا ليونی زړه نيها رانه غواړي

پای

افغانستان شين لغمان

05/05/2024



د ليکوال لنډه پيژندنه :

سرحد الله نوري چې د لغمان ولايت د مرکز محترلام اوسيدونکى ده

چې اوس مهال هم د لغمان ولايت په خپل کلى کې په ١١م ټولګي کې زده کړي کوي

د دغه کتاب ليکوال نه غواړی چې خپل ځان په پوره توګه معرفي کړي

مينه او مننه سرحد الله نوري او تميم امرخيل

که تاسو هم غواړي چې کتابونه مو پي ډي ايف شي نو ما سره اړيکه ونيسي

+15852980839